سمیع الدین افغانی

۲۰۲۰/۰۹/۲۳

# د یو افغان مهاجر د زړه فریاد
# (د مهاجرو کمپ کی)

د مهاجرو کمپ کی پروت یم په بد حال
خالقه لایزال، که خلاص شم له دی بنده

**** **** ****

دلته کی هره ورځ ماتم دی
هر ګړي ظلم دی ستم دی
دلته د غم د پاسه غم دی
نه می د سر تضمین خوندی دی نه د مال

خالقه لایزال، که خلاص شم له دی بنده

****

وطن مو ټول شولو خراب
د تنظیمونو په حساب
هر خوا ته ظلم دی عذاب
دی زورواکانو ربه کبر کړی زوال

خالقه لایزال، که خلاص شم له دی بنده

****

ربه قبول مو کړی دعا
له تا نه غواړو موږ پناه
که له دی بنده شم رها
په پردیسی کی محتاج ژوند دی د جنجال
خالقه لایزال، که خلاص شم له دی بنده
****



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

اولاد تعلیم ځینی محروم دی
د دوی کمک هسی په نوم دی
بی وسه ځوان دی که ماشوم دی
ځـوانـان لـویـږی بـی تعلیمه بی کمال
خالقه لایـزال، که خلاص شم له دی بنده

****

ربـه وطــن مـو کــړی ابـــاد
هر خوا تــه سوله کړی بنیاد
دا زورواکان کړی ټول برباد
چی شی خبر زمونږ د زړنو د احوال
خالقه لایـزال، که خلاص شم له دی بنده



[برای مطالب دیگر این نویسنده، اینجا کلیک کنید]